د افغاستان اسلامي جمهوريت

د ټاكنيزو شكايتونوكميسيون

جمهوری اسلامی افغانستان

کمیسیون شکایات انتخاباتی

Islamic Republic of Afghanistan

Electoral Complaints Commission

# د ټاكنيزو شكايتونو كميسيون اعلاميه

كابل ښار : ۱۳۸۹/۵/۳

د ټاكنيزو شكايتونو كميسيون داسې شكايتونه تر لاسه كړي دي ،چې د ولسي جرګې يو شمير نوماندان يا په ټاكل شوي وخت كې له خپلو دندو استعفا نه ده وركړې او يا هم تر دې مهاله خپلو رسمي دندو ته دوام وركوي. دغه شكايتونه د ټاكنيزو شكايتونو د كميسيون لخوا تر څيړنې لاندې دي. كه چيرې په ډاګه شي ،چې دغه شكايتونه صحت لري ، د دغه انتخاباتي سرغړونې تورن نوماندان د ټاكنو د قانون د ۱۳ مادې د لومړي فقرې د پنځم بند څخه سر غړونكي ګڼل كيږي او د ټاكنو د قانون د ۶۴ مادې د لومړي فقرې د څلورم بند او د ټاكنو د قانون د ۶۳ مادې د لومړي فقرې د لومړي بند پر بنسټ د نوماندۍ له حق څخه بې برخې كيږي . همدارنګه دغه كميسيون د ټولو درنو هيوادوالو څخه غوښتنه كوي ،كه چيرې د ورته انتخاباتي سر غړونو په هكله معلومات ولري ،په پلازمينې او ولايتونو كې دې د ټاكنيزو شكايتونو كميسيون ته خبر وركړي تر څو په هكله يې قانوني كړنه تر سره شي.

د ټاكنيزو شكايتونو كميسيون